بسم الله الرحمن الرحیم

# پوښتنې ته ځواب

## هر هغه څه چې خلکو ته حرام شي، پلور يې هم حرام دی



(ژباړه)

**پوښتنه:**

**اسلام علیکم ورحمت الله وبرکاته!**

الله سبحانه وتعالی دې تا روغ لري شيخ صاحب او نورو ته دې ستا د علم ګټه ورسېږي او ترې برخمن دې شي!

په یوه کمپنۍ کې چې سینګارتوکي تولیدوي او پلوري، د پلورونکي د استازي په توګه دنده راته پیدا شوه. د دغو توکو ډېری سلنه يې الکول وي، لکه (کولون چې د ایتایل الکولو ډېره برخه پکې وي او په تولیداتو کې يې ایتایل، میتایل، ایزوپروپایل الکول وي) د بېلګې په توګه عطر او د سینګار نور بېلابېل توکي.

**پوښتنه:** ایا ماته روا ده چې د پلورونکي د استازي په توګه هلته دنده ترسره کړم؟

همدارنګه ایا ماته روا ده چې په دې کمپنۍ کې دننه له پلور پرته په نورو برخو لکه اداري برخه کې کار وکړم؟

جزا کلا خیر

**ځواب:**

**وعلیکم وسلام ورحمت الله وبرکاته**

زه پوه شوم چې تاسو د هغو شرکتونو په تړاو پوښتنه کوئ چې د سمې سرچینې پر اساس پیل شوي او نه د هغو شرکتونو په تړاو چې باوري نه وي.

**د پوښتنې ځواب په دې ډول دی:**

۱. په داسې کمپنۍ کې د پلورونکي د استازي په توګه دنده ترسره کول چې منع شوي توکي لکه (عطر او هغه سینګارتوکي چې ایتایل الکول پکې ګډېږي) د کار کړلو قوانین:

مورږ پر دې مسله پخپل کتاب کې بحث کړی او دا مو څرګنده کړې چې دغه کار حرام دی. د اسلامي شخصیې په کتاب کې ویل شوي: «هر هغه څه چې خلک ترې منع شي، پلور یې هم حرام دی.»

هغه څه چې الله سبحانه وتعالی یې خوړل منع کړي، لکه د مردار څاروي غوښه، داسې څه چې الله سبحانه وتعالی یې څښل منع کړي، لکه الکول، همدارنګه داسې څه هم شته چې الله سبحانه وتعالی یې عبادت منع کړی، لکه بوتان، الله سبحانه وتعالی د مسجمو شتون او جوړول هم منع کړي دي.

په شرعي متونونو، اياتونو او حديثونو کې د يادو مواردو حراموالی او منع ياد شوي دي. هغه څه چې الله سبحانه وتعالی په پيل کې حرام کړي، که هغه خوراکي توکي او يا هم د څښاک توکي وي، پلور يې هم د بيو حراموالي په دليل منع دی.

جبر رضی الله عنه له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه په نقل سره ويلي:

**«إِنَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ حَرَّمَ بَيْعَ الْخَمْرِ وَالْمَيْتَةِ وَالْخِنْزِيرِ وَالأَصْنَامِ. فَقِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّه، أَرَأَيْتَ شُحُومَ الْمَيْتَةِ فَإِنَّهَا يُطْلَى بِهَا السُّفُنُ، وَيُدْهَنُ بِهَا الْجُلُودُ، وَيَسْتَصْبِحُ بِهَا النَّاسُ؟ فَقَالَ: لاَ، هُوَ حَرَامٌ. ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّه ﷺ عِنْدَ ذَلِكَ: قَاتَلَ اللَّهُ الْيَهُودَ، إِنَّ اللَّهَ لَمَّا حَرَّمَ شُحُومَهَا جَمَلُوهُ ثُمَّ بَاعُوهُ فَأَكَلُوا ثَمَنَهُ» (بوخاري)**

**ژباړه:** *الله سبحانه وتعالی او رسول الله صلی الله عليه وسلم د شرابو او هغو څارويو پلور حرام کړی چې هغه په طبيعي مرګ مړه شوي وي او همدارنګه د خوګ غوښه خوړل او د بوتانو عبادت يې هم حرام اعلان کړی دی. هغه پوښتنه وکړه: ای د الله سبحانه وتعالی رسوله! د هغو څارويو د غوړيو په تړاو څه وايئ چې په طبعيي مرګ مړه شوي وي، يعنې د دغو غوړيو کارولو، د پوستکي په غوړولو او د لامپونو لپاره له دغو غوړيو ګټه اخيستل څنګه دي؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: نه دا حرام دي. ده زياته کړه، الله سبحانه وتعالی پر يهوديانو لعنت ويلی! کله چې الله سبحانه وتعالی د داسې څارويو غوړ حرام وبلل، خو هغوی بيا هم هغه ويلي کړل، وروسته يې وپلورل او هغه بيې او پيسې يې چې ترې تر لاسه کولې، خوند يې ترې اخيست.*

جَمَلُوهُ کلمه د ويلي کېدو په مانا ده.

له ابن عباس څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

**«قَاتَلَ اللَّهُ الْيَهُودَ ثَلاَثاً، إِنَّ اللَّهَ حَرَّمَ عَلَيْهِمُ الشُّحُومَ فَبَاعُوهَا وَأَكَلُوا أَثْمَانَهَا، وَإِنَّ اللَّهَ إِذَا حَرَّمَ عَلَى قَوْمٍ أَكْلَ شَيْءٍ حَرَّمَ عَلَيْهِمْ ثَمَنَهُ» [بخاري]**

**ژباړه:** *پر یهودیانو دې د الله تعالی لعنت وي! رسول الله صلی الله علیه وسلم درې ځلې دا وویل. الله سبحانه وتعالی هغوی ته د مړو شویو څارویو د غوړو کارول حرام اعلان کړي. دوی بیا هم هغه ویلورل او له هغو بیو یې خوند واخیست چې تر لاسه یې کړې. کله چې الله سبحانه وتعالی د خلکو لپاره د حرامو شویو څیزونو خوړل حرام اعلان کړل، نو بیې یې هم ورته حرامې اعلان کړې.*

په هر حال، په دغسې ځای کې کار کول حرام دي.

۲. په داسې کمپنۍ کې په اداري برخه کې کار کول چې هلته د منع شوو توکو سوداګري کېږي، یا همدا توکي پکې شامل وي، دا مسله داسې واضح کېږي:

که مدیریتي کار په مستقیمه توګه د حرامو شویو توکو په پلور پورې اړوند وي، یعنې په داسې ځای کې کار کول چې هلته حرام شوي توکي تولید او یا پروسس کېږي او یا داسې نور، نو دغه مدیریتي کار حرام دی؛ ځکه دا د هغو حرامو توکو په کار پورې تړاو لري چې منع شوي دي.

خو که اداري کار په منع شویو توکو پورې اړوند نه و، یعنې په اداري کار کې د منع شویو توکو پلور شامل نه و، چې هغه ستا دنده وي او داسې نور کارونه. دغه اداري کار ستونزه نه لري، یعنې حرام نه دی. که څه هم داسې کمپنۍ وي چې سوداګري او تجارت یې حرام توکي وي. ځکه ته په دغه کمپنۍ کې منع شوی کار یا عمل نه ترسره کوې.

په هر حال، هر کس د خپل پر وړاندې مسوولیت لري.

نه یوازې له حرامو څخه ځان ساتل، بلکې د ځینو حلالو څیزونو په تړاو هم وېره شته چې حرام ورته نږدې وي.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم اصابه وو رضی الله عنهما حرامو ته د نږدې کېدو له ډار څخه له ډېرې مباحو لېرې کېدل. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

**«لَا يَبْلُغُ العَبْدُ أَنْ يَكُونَ مِنَ المُتَّقِينَ حَتَّى يَدَعَ مَا لَا بَأْسَ بِهِ حَذَراً لِمَا بِهِ البَأْسُ»**

**ژباړه:** *هېڅوک د مضرو او زيان رسوونکو څيزونو له خوشي کېدو پرته پرهېزګارۍ ته نه رسېږي.*

له ترمذي څخه روايت دی چې دا حسن حديث دی، ترمذي همدارنګه څرګنده کړې چې دا صحيح حديث دی. له حسن بن علي څخه يې هم روايت دی، الله دې پر هغه رحم وکړي، چې ويلي يې دي: ما دا څه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه ياد کړي او په ذهن کې مې ساتلي دي:

**«دَعْ مَا يَرِيبُكَ إِلَى مَا لاَ يَرِيبُكَ»**

**ژباړه:** *د هغه څه په اړه چې شکمن وئ، خوشي يې کړئ او هغه څه ته بيرته ور وګرځئ چې شک پکې نه وي.*

پر دې سربېره، دا د پوښتنه کوونکي او د هغه د دين لپاره غوره ده چې په داسې کمپنيو کې له کار کولو څخه ځان وساتي او داسې دنده پيدا کړي چې د ژوند لپاره يې مناسبه او معاش يې هم ښه وي. الله سبحانه وتعالى هغه کسان ژغوري چې ترې ډارېږي:

**﴿وَمَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجاً * وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ وَمَنْ يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ إِنَّ اللَّهَ بَالِغُ أَمْرِهِ قَدْ جَعَلَ اللَّهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْراً﴾** [طلاق:۲-۳]

**ژباړه:** *هر کس چې تقوا غوره کړي، الله سبحانه وتعالى يې ژغوري. او هغه ته له داسې ځايه رزق ورکوي چې ګمان يې نه کېږي. هر څوک چې پر الله سبحانه وتعالى توکل وکړي، د هغه امر ومني، الله سبحانه وتعالى خپل فرمان پر ځای کوي او الله سبحانه وتعالى هر څه ته اندازه ټاکلې ده.*

زه هيله‌مند يم چې دا به بسنه وکړي او الله سبحانه وتعالى تر ټولو ښه پوه او حکيم دی.

**ستاسو ورور عطا بن خليل ابو الرشته**

**ژباړه: بهیر «ویاړ»**